د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# رغونه

## اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د شـــوال ۱٤ مه، ۱٤٤٦ هـ.ق کال
وری/حمل ۲۳ مه، ۱۴۰۴ هـ.ش کـال
لومـړی کال، پرلـه پسـې نهمـه گڼـه

په دې گڼه کې لولئ:

لوگر: د روښـــن مخابراتي شرکـــت له لوري پل علم ښـــاروالی ته سلگونه غیرمثمر نیالگي ورکړل

غزني: پـــه دویمه ناحیه کې د دریم او څلـــورم پلان اړوند د پارک د جوړېدو چارې ۹۵ سلنه پرمختگ لري

کاپیسا: شنبه بازار ده باباعلی توسط شاروالی محمودراقی کنترول و نظارت گردید

خوست: د خوســـت ښـــار مرکزي کانال دوهم پړاو چارې بېر ته پیل شوې

فراه: د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله ۱۷ گڼه فرمان د فراه ښار د علماؤ او گذر وکیلانو سره شریک شو

غزني: غزني ښاروالی ریاســـت له لوري د خواجه روښنایی د سرک چارې یو ځل بیا پیل شوې

پروان: ریاســـت شـــاروالی چاریکار صدها اصلـــه گل زینتی را در ساحات مختلف شهر چاریکار غرس نمود

هلمند: د عمومي شهرا د نوي جوړ شوي گلدانونو د خړوبولو چارې رواني دي

تخار: آغاز پاک ســـازی جاده ها و رسته های شهر تالقان از وجود دستفروشان

کندز: نظارت از پروژه اعمار تالار بزرگ محافل شاروالی کندز

هلمند: په ښاري محدوده کې په پیاده لارو کې موانع په نښه شوې

پکتیا: گردیز ښاروال په سویل ختیځ زون کې د یونیپس مؤسسې له مسؤولانو سره وکتل

## شاروال مزارشریف از جریان اعمار یک باب چهارراهی و مسجد جامع نظارت نمود




## د ښـــاري پراختیا په موخه د کندهار ښـــاروالی مهم گام




## څلورمه ناحیه کـــې د ٥،٦ میلیونه افغانیو په ارزښـــت د سړک او ویالو جوړولو د کانکریټ چارې جریان لري



# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## شاروال مزارشریف از جریان اعمار یک باب چهارراهی و مسجد جامع نظارت نمود


بلخ ۱

حافظ عبدالرحمن همت، شاروال شهر مزارشریف از اعمار یک باب چهارراهی و مسجد جامع، عریض ساختن و قیرریزی سرک اطراف چهارراهی الی سه مسیر سه راهی حیرتان که هر مسیر آن به اندازه ۱۱۱ متر طول دارد نظارت نمود.

این پروژه ها در حدود ۲۶ میلیون افغانی هزینه دارد و شاروال مزارشریف برای تکمیل امور کاری به صورت معیاری، کیفیت بهتر و در وقت معین رهنمود های لازم را برای مسئوول قراردادی پروژه ارائه کرد.

همچنان شاروال مزارشریف تأکید نمود که در اعمار پیروژه های متذکره از مواد ساختمانی با کیفیت و تولید وطن استفاده نمایند و مطابق شرطنامه قرارداد را به صورت اساسی به پایه اکمال برسانند.

## د ننګرهار میخانیکي انستیټوټ محصلینو ته د عملي کار په موخه روزنیز ورکشاپ ورکړ شو

د جلال اباد ښاروالۍ د تخنیکي او سکتوري چارو ریاست د پلان امر انجنیر جاوید جهانمل له لوري د ننګرهار میخانیکي انستیټوټ د ساختمان څانګې ۲۳ تنو محصلینو ته د جلال آباد ښاروالۍ سره د ملکیتونو د سروې په موخه روزنیز ورکشاپ ورکړ شو.

د پلان امر انجنیر جاوید جهانمل له لوري په یاد روزنیز ورکشاپ کې د ملکیتونو د سروې تول تخنیکي او مسلکي معلومات شریک شول.

یاد محصلین به د یوې میاشتې لپاره د خپلو عملي زده کړو ترڅنګ په بېلابېلو ناحیو کې د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د ملکیتونو په سروې او نورو اړینو برخو کې همکاري کوي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې د بېلابېلو پوهنتونونو محصلینو لپاره د عملي زده کړې په موخه زمینه مساعده کړي.

ننګرهار ۲

## د روښان مخابراتي شرکت له لوري پل علم ښاروالۍ ته سلګونه غیرمثمر نیالګي ورکړل


لوګر ۳

د یادو نیالګیو د سپارلو پر مهال د لوګر ولایت د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ رئیس مولوي مطیع الله عابد، د پل علم ښاروالۍ مسؤولینو او د روښان مخابراتي شرکت مرکزي زون مسؤول رحیم الله همګام شتون درلود.

د روښان مخابراتي شرکت مرکزي زون رئیس، رحیم الله همګام د دغه نیالګیو له ورکولو څخه موخه د ښار زرغونتیا او د چاپېریال ساتل وبلل او زیاته یې کړه، چې روښان مخابراتي شرکت تل هڅه کوي تر څو هېوادوالو ته د مخابراتي خدماتو تر څنګ بېلابېل عام المنفعه خدمات هم وړاندې کړي.

ورته مهال د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ رئیس مولوي مطیع الله عابد او د پل علم ښاروالۍ د کنټرول مدیر انجنیر سید اغا سادات په وار سره د روښان مخابراتي شرکت څخه مننه وکړه او په راتلونکې کې یې ته ورته نورو همکاریو غوښتونکي شول.

د یادوني وړ ده، چې نږدې راتلونکې کې به د روښان مخابراتي شرکت له لوري، ولایت مقام ته خېرمه یو څلور لارې هم په اساسي توګه ورغول شي.

## مزارشریف ښار کې د سړکونو او پلو لارو پاکولو او جارو کولو چارې


بلخ ۴

د مزارشریف ښاروال حافظ عبدالرحمن همت د لارښوونې په اساس د ښاروالۍ تنظیف او سرسبزۍ امریت زیار کښه او وطنپاله پرسونل له لوري د مزارشریف ښار بېلابېلو سیمو سړکونو او پلو لارو پاکولو او جارو کولو چارې په چټکۍ او منظم ډول ترسره شوې.

د ښار په عمومي سړکونو او لښتیو کې د کثافاتو، خاورو او خځلو غورځولو څخه ډډه وکړئ، ځکه د ښاري معیارونو او ښاري فرهنګ خلاف کړنې دي.

## جلسه بورد مشورتی شاروالی نهرین برگزار گردید

شاروالی نهرین ولایت بغلان به منظور مشوره و جلب همکاری با مردم، جلسه‌ی مردمی با حضور بزرگان، علما و نمایندگان اصناف در کلوپ شاروالی برگزار کرد.

در این نشست مشورتی روی پروژه‌های انکشافی سال ۱۴۰۴ بحث صورت گرفت و اشتراک‌کنندگان حمایت کامل خود را از برنامه‌های شاروالی اعلام کردند.

در این نشست تیمی از نخبه‌گان برای همکاری در جمع آوری موارد مربوط به شاروالی نیز تعیین گردید.

جلسه با دعای خیر پایان یافت.

بغلان ۵

**مفتی گل احمد مبشر، شاروال شهر میمنه ولایت فاریاب امروز شنبه جلسه‌ای را با مامورین بخش تنظیف و عواید مدیریت‌های نواحی این اداره برگزار نمود و آنها را متوجه مسئوولیت‌ها و امور کاری شان در بخش‌های کاری ایشان ساخت.**

فاریاب ۶

## په دویمه ناحیه کې د دریم او څلورم پلان اړوند د پارک د جوړیدو چارې ۹۵ سلنه پرمختګ لري

غزني ښاروالۍ ریاست او یونیس نړیوالی موسسې په مرسته د غزني ښار د سمسورتیا او آبادۍ په موخه د دریم او څلورم پلان د پارک د جوړیدو چارې د بشپړتیا په لور رواني دي.

د خوندي ښاري فضا د رامنځته کولو په موخه د یاد پارک د احاطي دیوال، د کتارو لګول او رنګ چارې بشپړې شوي دي او اوس مهال د سمسورتیا لپاره یې د نیالګیو کښنولو چارې رواني دي چې ډیر ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

دغه پارک چې د ۸ میلیونو افغانیو په ارزښت په ۱۱۷۷۳ متره مربع ځمکه کې جوړیږي د دریم او څلورم پلان اوسیدونکو ته د خوښۍ زیرې دي.

د احاطي دیوال له جوړولو سربېره ، دغه پارک پلي لارې د مزایکو په کارولو سره په معیاري توګه جوړ شوي دي چې، د دي سره به د یاد پارک د ودې او ساتنې په موخه نور اړین تاسیسات هم ورغول شي تر څو ښاریان وکولای شي تولنیزو آسانتیاوو ته لاسرسي پیدا کړي.

د یادولو وړ ده چې د یاد پارک ځمکه د ښاروالۍ ریاست له لوري ۱۷۳ میلیونو افغانیو په ارزښت اخیستې او اوس د یاد ریاست په همکاري او یونیس نړیوالي موسسې په مالي ملاتړ د پارک چارې ۹۵ سلنه پرمختګ لري او ډیر ژر به بشپړ شي.

غزني ۷

## شـنبه بازار ده باباعلی توسط شـاروالی محمودراقی کنترول و نظارت گردید

کارمندان شـاروالی محمودراقی ولایت کاپیسا به سلسله کنترول و نظارت از بازار ها، امروز از شنبه بازار ده باباعلی کنترول و نظارت بعمل آوردند.

قابل تذکر است که این نظارت و کنترول در بخش های باز نگهداشـتن پیـاده روهـا، جلوگیری از آلودگـی صوتی، جلوگیری از تخلفات شهری، استفاده از سنگ های معیاری در خرید و فروش و چندین موارد مهم دیگر صورت گرفت.

کاپیسا ۸

## اوومه ناحیه کې د سـرک د ګلدانونـو د خړوبولو چارې روانې دي




ننګرهار ۹

د جلال اباد ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ امریت له لوري د اوومې ناحیې د سړکونو ترمنځ ګلدانونو کې د بوټو د اوبو کولو چارې روانې دي.

د تنظیف او سرسـبزۍ امریت هره ورځ د سهار له شپږ بجو د مازیګـر تر درې نیمو بجـو پورې د ښـار د عمومي جادو او ګلدانونو د اوبو کولو چارې ترسره کوي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې د ښار د ښکلا په موخه د زینتي بوټو پالنه په ښه شکل ترسره کړي.

**نماینده بازار شـاه مردان با شاروال شکردره دیدار نمود و مشـکلات بازار را با ایشـان در جریان گذاشـت؛ همچنان کارکنان تنظیف و سرسبزی به منظور پاکی و صفایی و حفاظت از محیط زیسـت این ولسوالی، کثافات بازار حسـین کوت را جمع آوری نمودند و به مکان مناسب آن انتقال دادند.**




شکردره/ کابل ۱۰

**په دویمه ناحیه کې د تېـرکال پلان له مخې اړوند د ترانسپورت څخه تر مخابراتو پورې د سړک د جوړېدو چارې روانې دي.
پلخمرۍ ښـاروالۍ ریاست آبادۍ په موخه د پلان په کتو د مخکنۍ تخصیص د ٦٢ مېلیونو له مخې د سـرک د جوړېدو چارې په چټکۍ روانې دي.
دغه سړک چې د ۱ کیلومتر اوږدوالی او ٦ متر پراخـوالي لري چـې د ځای اوسـېدونکو او پلخمرۍ خلکوته د خوښۍ زېرې دي.**



پلخمري ۱۱

## خوست ښـاروالۍ: هڅه مو کړې، خو ښاري چاپېریال سرسبز کړو



خوست ۱۲

د خوست ښاروالۍ مسؤلینو د سرسبزۍ په برخه کې، د نورو برخو په څېر، تل نه سـتړې کېدونکي هلې ځلې کړې دي.

دوی د ښار داخلي سړکونو ګلدانونه، د سړکونو دواړو خواوو ته د نیالګـیو کېنـول، د تفریحي غونډیو سرسـبزول، او ځینو مکتبونو او مدرسو ته د نیالګیو ورکول ترسره کړي، چې له امله یې ښاري چاپېریال د سرسبزېدو په حال کې دی.

ښاروالۍ اداري د یادو ځایونو تر څنګ، د ښاروالۍ انګړ کې مناسـب چمن، نیالګـي، ګلان او ګڼ شـمېر زینتي بوټي لګولي، چې ښـاروالۍ اداري ته په راتګ سره د مراجعینو د سکون لامل ګرځي.

د یادونې ده، چې د ښاري چاپېریال په برخه کې، د ښاروالۍ اداري اړوند د سرسبزۍ مدیریت مسؤلینو د ښاروالۍ مشرتابه په هدایت پوره هڅه کړې، تر څو د خپل مسـؤلیت له مخې د ښار اړوند هغه ځایونه سرسبز کړي، چې اړتیا ورته لیدل کېږي.

**مسؤولین مدیریت عمومی حکومتداری شهری شاروالی چاریکار ولایت پروان با مدیران نواحی شـش‌گانه شـهر چاریکار و مدیریـت تنظیم مارکیت‌ها به هدف تنظیم بهتر شهر چاریکار و جابجایی دستفروشـان و میوه فروشان داخل شهر بحث و گفتگو نمودند.**

پروان ۱۳

## خوست ښاروالۍ د بدو دودونو پر وړاندې د عامه پوهاوي پیل شوې لړۍ




خوست ۱۴

د امیرالمومنیـن حفظه‌الله د فرمان پر اسـاس، د خوسـت ښاروالۍ اړوند د ښاري حکومتوالۍ امریت له‌خوا د بدو او غیر شرعي دودونو پر وړاندې د عامه پوهاوي لړۍ پیل شوې ده.

په دې موخه یاد امریت، د ښار په بېلابېلو ګڼ مېشتو ځایونو او واټونـو کې د دیني او اصلاحي پیغامونو لرونکي بینرونه پر لویو بلبوردونو د نصب لړۍ بشپړه کړه.

خوست ښـاروالۍ یاد ګام د ښاریانو د ذهنیت روښانه کولو، د اسلامي ارزښتونو د پیاوړتیا او منفي دودونو د مخنیوي په هدف ترسره کړی دی. همداراز، له دې وړاندې ښـاروالۍ مشرتابه د ښاري سیمو د ګذر وکیلانو، دیني علماوو او قومي مشرانو سره د یاد فرمان اړوند عامه پوهاوي یوه ستره ناسته هم ترسره کړه.

خوسـت ښـاروالۍ له ټولو ښـاریانو غواړي، چې د شرعي لارښـوونو په رڼا کې د اصلاح بهیر او د یاد فرمان په تطبیق کې دې د خپل مسؤلیت له مخې هر اړخیزه همکاري وکړئ.

## د خوسـت ښـار مرکزي کانال دوهم پړاو چارې ببر ته پیل شوې

د خوست ښاروالۍ له لوري د ښار مرکزي لوی کانال، چې کالونه وړاندې جوړ شوی و، اوس مهال یې د کوچنې اختر پـه تېریدو سره یې د دوهم پړاو د ترمیم کارونه د انجینري اصولـو مطابـق، د انجنیرانو په شـتون کې، د لسـګونو کاریګرو په مصروف ساتلو سره پیل شویدي.

د یادونې وړ ده، چې یاد لوی کانال ترمیم ته اړتیا درلوده، چې نږدې دوه میاشــتې د مخه یې د یوه پړاو کارونه بشپړ شـول، او پاتې دوهم پړاو کارونه به د ښاریانو غوښتنو سره سم، د انجنیري نورمونو مطابق، بشپړ شي.

خوست ۱۵

# د ولاياتــو او ولســواليو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونيزه

## د عاليقــدر اميرالمومنين حفظه الله ۱۷ ګڼه فرمان د فراه ښار د علماؤ او ګذر وکيلانو سره شريک شو




فراه ۱۶

د عاليقدر اميرالمومنين حفظه الله ۱۷ ګڼه فرمان د خېښې، ودونو، مصيبتونو او همداراز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناســمو رواجونو د مخنيوي په هکله رالېږل شوی پينځه ماده ايز فرمان، د ښــاروالی د مســوولينو له لوري د علماو،مشورتي بورډ غړواو ګذر وکيلانو سره شريک شو.

فراه ښــاروال مفتي سردار محمــد "مرصاد" ټولو ته د ښــه راغلاســت ترڅنګ د ياد فرمان په بېلابېلو موضوعاتو خبرې وکړې او دغه فرمان يې د ولســونو په ژوند کې د پرمختګ او هوساينې په برخه کې مهم وګڼه.

همدرانګــه يې زياته کړه: چې د ناحيو منتفيذين، علماء کرام او ګذر وکيلان بايد د خپلو ســيمو خلکو ته د ياد فرمان پيغام ورسوي او د يادو ناســمو رواجونو د مخنيوي په موخه د عامه پوهاوي پراخ کمپاينونه ترسره کړي، ترڅو خلک په ټولنه کې لــه بې‌ځايه او غيرشرعي رواجونو څخــه راوګرځول شي او پر ځای يې د اسلامي اصولو او لارښوونو مطابق عمل وکړي.

وروسته د ښاروالی رياست د دعوت او ارشاد مديريت د مدير، ښــاغلي مولوي فيض الله ياسين له لوري، د چارو اداري لوی رياســت له لوري د رالېږل شوي فرمان ټولې مادې په منظمه ډول د غونډې ګډونوالو سره شريکې شوې.

په پای کې، مشــورتي بورډ غړو، متنفذينو او ګذر وکيلانو ژمنه وکړ چې ياد فرمان به خپلو ســيمو کې عامو خلکو ته ورسوي او ترڅنګ به يــې د عامه پوهاوي چارې ترسره کړي، ترڅو په ټولنه کې د ناسمو او غيرشرعي دودونو مخنيوی وشي.

**کمپاين نهال شــانی توسط کميته شاروالی ليسه ذکور شهر کهنه ولايت غزنی در داخل محوطه اين ليسه راه‌اندازی شد که به تعداد ۲۰ اصله نهال ناجو را که از طرف رياســت شاروالی غزنی توزيع شــده بود در محوطه مکتــب غرس کردنــد و ايــن برنامه در ۲۰ مکتب تطبيق می‌شود.**

غزني ۱۷

## ښرني ښاروالی اداري نوبتي غونډه ترسره کړه

ښــرني ښــاروالی رياســت اداري نوبتي غونډه د محترم ښــاروال په مشرۍ د ټولو اداري کارمندانو په شــتون کې ترسره کړه، چې د روان "۱۴۰۴" هــ ش شمسي کال لپاره د ټولو کارمندانو د مســئوليتونو، پلان شوو پروژو، تنظيف، ښاري نظم، عوايدو او ګڼ شــمېر نورو موضوعاتو په اړوند نظرونه شريک شــول او په نتيجه کــې يې اړين تصاميم ونيول شول.

غونډه کې ښــرني ښاروال الحاج مولوي سردارولي "ثابت" وويل؛ دا چې نوی "۱۴۰۴" مالي کال پيل شوی مور بايد خپلو چارو او مســئوليتونو ته متوجــې او په اخلاصمندانه توګه يې د سرته رسولو لپاره هلې ځلې وکړو.

نوموړي د عايداتي سرچينو پيداکولو، پلان شــوو خدماتي پروژو د تطبيــق، د کال په سر کــې د فعاليت جوازونو د وېش، د ښار د سرتاسري نظم او نظافت، د تېر کال د پاتې پروژو د پيل او دغه راز په نبوي طريقه د کارمندانو د سيرت او صورت د برابرولــو، دندو ته په خپل وخت د حاضرېدلو، مســئوليت ته د ژمنتيا، متقابلې همــکارۍ مراجعينو او ښاريانو سره د نېک چلند په تړاو اړينې سپارښتنې وړاندې کړې او ټينګار يې وکړ، چې هر کارمند د يادو سپارښتنو په نظر کې نيولو سره خپلې چارې مخته يوسي.

همدارنګــه د اداري کارمندانو له لوري هم په ذکر شــوو مســائلو نظرونه شريک شول او د غونډې په پای کې اړوند مديريتونو ته د خپلې برخې کارونو د تعقيب او سرته رسولو لارښوونه وشوه.

پکتيکا ۱۸

## رياست شاروالی چاريکار صدها اصله ګل زينتی را در ساحات مختلف شهر چاريکار غرس نمود

رياست شاروالی شــهر چاريکار ولايت پروان با فرارسيدن فصل بهــار غرض تزئين و زيبايی شــهر، صدها اصله ګل های مختلف النوع زينتی را در نواحی مختلف، ســاحات سبز و پارک های تفريحی غرس نمود.

اين ګل های زينتی که در بخش های مختلف شهر توسط شــاروالی چاريکار غرس شده است از ويژګی های خاصی برخوردار بوده که در برابر باران، آفتاب و سردی مقاوم می باشند.

رياست شاروالی چاريکار ضمن حفظ و مراقبت از اين ګل ها، از تمام شــهروندان چاريکار ميخواهــد تا در حفظ و نګهداری ســاحات سبز، درختان و ګل‌هــای زينتی با شاروالی همکاری جدی نمايند.

پروان ۱۹

## غزني ښــاروالی رياســت له لوري د خواجه روشنايي د سرک چارې يو ځل بيا پيل شوې



غزني ۲۰

غزني ښاروالی رياســت او يونپس نړيوالي موسسې په مالي ملاتړ د ژمې د ختمېدو سره ســم د خواجه روشنايي د سرک پاتې کارونو پيل شــول چې، د دې سره د قلعه نو سړک څخه بيا د رســول آباد د سړک په امتداد د لښتيو په شمول به د کانګريټ چارې پيل شي.

د دغه پروژې مسؤل انجنير عبدالله حکيمي وويل: ياده پروژه تېر کال پيل شــوه چې، د هوا ســړېدو له کبلــه يې کارونه نيمګړي پاتې شــول او اوس مهال يې د ســړک د هواريدو او خاورو انتقال چــارې روانې دي او ډېر ژر به کانګرېټ کولو ته چمتو شي.

نوموړي همدارز زياته کړه: دغه پروژه کې ۱۰۰ مســلکي او غيري مسلکي کسانو ته د کار زمينه برابره شوې ده چې د يوه مياشتې په موده کې به يې کارونه بشپړ شي.

بل خوا د يادې پروژې کاريګر وايي: د ښــاروالی رياســت او يونپس نړيوالي موســســې څخه مننه کوو چې، دغه پروژه کې يې د کار زمينه ورته برابره کړې ده.

د يادولــو وړ ده چې، اوس مهال د غزني ښــاروالی د سړکونو جوړولو پروژې د ښــار په مختيلفو ســيمو کې د پلې کېدو په حال کې دي.

## اوومه ناحيه دوسرکي چوک کې د ښاري نظم په موخه کمپاين ترسره شو

د جلال اباد ښاروالی د مارکيټونو د تنظيم امريت له لوري د ښاري نظم د رامينځته کولو په موخه د اوومې ناحيې په دوسرکي چوک کې د ښاري نظم راوستو، پلو لارو خلاصولو او لاس پلورونکــو د تنظيم په موخــه کمپاين ترسره کړ. د کمپايــن پرمهال د مارکيتونو د تنظيــم آمريت کارکوونکو لاس پلورونکو ته خبرداری ورکړ چې که ښــاري نظم په پام کې ونه نيــسي لاسي کراچۍ به يې ضبــط شي بيا به د شکايت حق نه لري.

د مارکيټونــو د تنظيم آمريت هره ورځ د ښــار په بېلابېلو ساحو کې د ښاري نظم د راوستو په موخه هڅې کوي.

ننګرهار ۲۱

## روند نهال‌شانی توسط شاروالی محمودراقی به هدف ایجاد محیط سبز ادامه دارد



کاپیسا ۲۲

شاروالی محمودراقی ولایت کاپیسا به منظور ایجاد محیطی سبز، زیبا و عاری از آلودگی روند نهال‌شانی را آغاز کرده است کـه در ادامه آن امروز ۳۰۰ اصله نهال مثمر و غیر مثمر را در پارک تفریحی ریگروان مربوط ناحیه دوم شهر غرس نمود.

مسئوولین شاروالی می‌گویند: این نهال‌ها در زیبایی محیط، تصفیه هوا و کاهش گازهای مـضر نقش مهمی دارد و تأکید کردند که این روند در دیگر مناطق شهر نیز ادامه خواهد یافت.

همچنان مسؤولین از مردم خواستند تا در نگهداری و آبیاری این نهال‌ها سـهم فعال بگیرند؛ واز جانب دیگر باشـندگان محل از این اقدام استقبال کردند و آنرا گام مهم در سرسبزی شهر و بهبود محیط زیست دانستند.

## د مشـورتي بورډ له غړو او گـذر وکیلانو سره د همغږۍ ناسته تر سره شوه




میدان ښار ۲۳

د میدان ښار ښاروالۍ له لوري د مشورتي بورډ له غړو او گذر وکیلانو سره د همغږۍ ناسته تر سره شوه.

د میدان ښار ښـاروال ښاغلي ملا رازمحمد فاروقي د ناستې گډونوالو ته د ښـه راغلاست تر څنگ په خپله پیلیزه وینا کې د مشورتي بورډ او گذر وکیلانو په رغنده رول خبرې وکړې، د ښاروالۍ په کړنو کې یې د دوی مشوري او کړنې اړینې وبللې او په ښـارگوټو کې د نیالگیو کینولـو او پاللو په پار یې اړوند مدیریت ته سپارښتنه وکړه تر څو د گذر وکیلانو له لوري د هر گـذر لپاره یوه اندازه نیالگـي د کینولو په پار د دوی په واک کې ورکړي.

د مالي او محاسبي مدیر له لوري د ۱۴۰۴ مالي کال د بودیجې او انکشـافي پروژو په اړه د بورډ غړو او گذر وکیلانو ته وضاحت ورکړل شو او په اړه یې د دوی لازمې مشورې تر لاسه شوې.

## اروزگان ترینکوټ ښاروالی مقام کې د ۱٤۰٤ مالي کال په پیل کې د نویو پلانونو د تطبیق په موخه ناسته ترسره شوه




اروزگان ۲٤

د ترینکوټ ښـاروالي ریاسـت مقام کې د یاد ریاست رئیس مولوی عبدالرشـید هدایت اللـه صاحب په مشرۍ د ۱٤۰٤ مالي کال په پیل کې د یو شمیر پلانونو تطبیق او د ساحوي او اداري کارونو د لا چټکتیا په هدف ناسته تر سره شوه.

لومړي ښـاغلي مولوی هدایت الله د اداري چارو تر څنگ په اداري او سـاحوي کارونو کې د کارمندانو نه ستړیدونکو چارو ستاینه وکړه، او د ټولو کارمندانو څخه یې د دا نظام ، خلگو او وطن لپاره یې لا په صداقت سره کارکول او خپلو ورسـپارل سوو مسؤولیتونو ته متوجه کیدل او چارې یې پوره ایمانداری سره پر مخ وړولو غوښتنه وکړه.

غونډې کې په ۱٤۰٤ مالي د پیل سره د پلانونو پر جوړښـت، د تیـر کال د باقیاتـو راټولول ، د تیر کال د اداري اسـنادو ترتیـب، د ۱٤۰۳ او ۱٤۰٤ مالي کال د پروژو په مورد بحث ، د ۱٤۰٤ مالـي کال د پیل سره هـر کارمند خپلې دندې ته متوجه کیدل ، او یو شـمیر نورو مهمو مسایلو باندې بحث او خبرې وشوې.

همدا راز د یاد ریاسـت د مالي او اداري چارو عمومي مدیر رحمن الله رحماني کارمندانو ته په اداري او سـاحوي چارو کـې د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ . او په اداري چارو کې یې د لا ښـې همرغۍ په کولو ټینگار وکړ . نوموړي د کارمندانو د ښه کارکردگۍ پایله د ښاروالي د عوایدو ۳۰٪ سلنه زیاتوالی یاد کړی.

د غونډې په ورسـتیو کې د یاد ریاست د دعوت او ارشاد مدیر مولوی عبدالقدوس اغا د ټولو کارمندانو څخه پر نبوي سنتو عمل کولو غوښـتنه وکړه . او یاده غونډه د اختتامیه دوعا په ویلو سره پای ته ورسول.

**جلسه اداری شـاروالی ولسوالی بگرام ولایت پروان امروز یکشـنبه به رهبری مجاور طاهری، شاروال این ولسوالی دایر شد و در مورد مشکلات و موانعات در ولسـوالی بحث و تبادل نظر صورت گرفته و پیرامون آن تصامیم لازم اتخاذ گردید.**

پروان ۲۵

## مولوی حبیب‌الله قانع طی مراسـمی به‌حیث شاروال جدید شهر سرپل معرفی گردید

مولوی حبیب‌الله قانع طی مراسـمی به‌حیث شـاروال جدیـد شـهر سرپـل در حضـور مسـئوولین محلی، کارمنـدان شـاروالی، علمای کـرام، متنفذین قومی و جمعی از شـهروندان طی مراسم رسمی معرفی شد.

الحاج مولوی حبیب‌الله قانع که سابقهٔ فعالیت‌ها در عرصه های مختلف اداری و خدمات شـهری دارد، در سـخنان ابتدایی خود از اعتماد مسئوولین ابراز سپاس‌گزاری کرد و تعهد سپرد که با روحیهٔ خدمت‌گزاری و هماهنگی نزدیک با مردم برای بهبود وضعیت تنظیف، توسعه زیرساخت‌های شهری و ارتقای خدمات شاروالی تلاش خواهد نمود.

وی نقش همکاری و مشـارکت مردم را در مؤفقیت برنامه های شهری بسـیار مهم دانسته از شهروندان خواست تا در راستای آبادانی و نظم شهری با اداره شاروالی همکار باشند.

سرپل ۲۶

**کارکنان تنظیف و سرسـبزی شـاروالی شکردره ولایت کابل به منظور پاکی و صفایی و حفاظت از محیط زیسـت این ولسـوالی، کثافات شهرک جمال مینه را جمع آوری نمودند و به مکان مناسب آن انتقال دادند.**

شکردره/ کابل ۲۷

## لښـکرگاه کې د ښـاروالۍ له لوري د پاکوالي په موخه ځانگړی ټیم جوړ سو




هلمند ۲۸

د هلمند ولایت مرکز لښـکرگاه ښـاروال حافـظ صدیق په لارښوونه د تنظیف او سرسـبزۍ عمومي مدیریت له لوري د ښار د پاکوالي په موخه ځانگړی ټیم جوړ شو.

د تنظیف او سرسبزۍ عمومي مدیر محمد نسیم سحر په خبره یاد ټیم یو ځانگړی، مجهز او د ځوانانو څخه تشکیل شوی دی چې د ښار په هره ساحه کې کچرې (خځلې) زیاتې وي دوی به رسـیدنه کوي، نومـوړي زیاتوي چې همدارنگه د ښـار د کانالونو او لویو چریو د پاکولو په موخه به اقدام کوي.

د یادونې وړ ده چې لښـکرگاه ښاروالي هره ورځ د ښار څخه لسگونه موټره خځلې باسي او تر ټاکل شوو ساحو یې رسوي.

## د مزارشریف ښار بڼې بدلولو په موخه ګړندۍ هڅې



بلخ ۲۹

د مزارشریف ښاروالی ته څېرمه خلور لارې ګلدانیو جوړولو او بیارغولو چارې پیل شوې.

د مزارشریف ښــاروال حافظ عبدالرحمــن همت په ځانګړې لارښــوونې د مزارشریف ښــار ښکلا او ښــبرازۍ په موخه د مزارشریف ښــاروالی ته څېرمه خلور لارې ګلدانیو جوړولو او بیارغولو چارې د مزارشریف ښاروالۍ له خوا او د خیر سوداګر په مالي لګښت پیل شوې.

نومــوړې ګلدانیو جوړولو او بیارغولو چــارو کې د نوې ګټارو نصبول، د اوبو فواری جوړول، د مرمر ډبرو لګولو، ډیزاین داره ځراغونه لګول، رنګمالی او سمسورتیا چارې شاملې دي.

د ګلدانیو جوړولو او بیارغولو چارو بشــپړېدو سره به نوموړې سیمه کې ځانګړې ښکلا رامنځته شي.

## د ښــارې حکومتوالی امریت اړونــد مدیریتونو سره د مغږۍ ناسته ترسره شوه




خوست ۳۰

د یادې ناســتې هدف د ښاروالی مقام له لوري د ۱۴۰۴ مالي کال منظور شــوي عملیاتي پلان په وخت تطبیق، د ښــاریانو ستونزو او شکایاتو ته رسیدنه او د مقام سره شریکول، د اداري او عامه ناســتو ترتیبول او په وخت د چــارو راپورونه د مرکز سره شریکــول وو، چې د ښــې حکومتوالي رامنځته کیدو او ښــار میښتښتنې کلتور ترویج برخه کې موثري کړنې ترسره شوي وي.

د یادونې ده، چې د خوست ښاروالی د نورو امریتونو تر څنګ د ښــاري حکومتوالی امریت عملیاتي پلان په وخت تطبیق تطبیق، د ښــاریانو ستونزو او شکایاتو ته رسیدنه او مقام سره شریکول د نورو برخو تر څنګ د عامه ناســتو برابرول او ښې حکومتوالــي رامنځته کیدو پــه برخه کې بریالــي ګامونه اخیستي دي.

## د عمومي شــهرا د نوي جوړ شــوي ګلدانونو د خړوبولو چارې روانې دي



هلمند ۳۱

هلمند ګرشــک ښــاروالی د تنظیف او سرسبزی مدیریت له لوري د عمومي شــهرا د نوي جوړ شوي ګلدانونو د نیالګیو د اوبو کولو چارې په منظم ډول روانې دي.

د ګرشک ښــاروالی رهبري هڅه کوي چې د ښار د ښکلا په موخه د زینتي بوټو پالنه په ښه شکل ترسره کړي.

## جلسه‌ی اداری شــاروالی غوربند ولایت پروان برگزار گردید

جلسه اداری شاروالی ولسوالی غور بند ولایت پروان امروز دوشــنبه (۱۸ حمل) به ریاســت ملا محمدا گل مسلم ، شــاروال غوربند و مســؤولان بخش‌های مختلف شاروالی برگزار گردید.در این جلسه روی موضوعات مهم شهری از جملــه، تنظیف، برنامه‌ریزی انکشــافی، حل مشــکلات شــهروندان و هماهنگی بیشــتر میان بخش‌های مختلف شاروالی، بحث گردید.

شــاروال غوربند در جلســه از فعالیت های بخش تنظیف قدردانی نمود و برکنترل قیم مــواد خوراکی و ایجاد نظم شهری تاکید ورزید.

این جلسه با تلاوت قرآنکریم آغاز و با دعای خیر به پایان رسید.

پروان ۳۲

## آغاز نصب وسایل بازی اطفال در پارک تفریحی صیاد



کاپیسا ۳۳

شــاروالی محمودراقی ولایت کاپیسا، به منظور ایجاد فضای تفریحی سالم امروز دوشنبه (۱۸حمل) کار نصب وسایل بازی اطفال را در پارک تفریحی صیاد مربوط ناحیه سوم این شهر آغاز نموده است.

این اقدام به هدف فراهم سازی محیط امن، سالم و شاد برای اطفال جامعه در نظر گرفته شــده و قرار است وسایل بازی با رعایت معیارهای ایمنی و اســتاندارد تهیه شده در این پارک نصب گردد.

## آغاز پاک ســازی جاده ها و رســته های شهر تالقان از وجود دستفروشان




تخار ۳٤

شاروالی شهر تالقان ولایت تخار به منظور نظم شهری ، روند پاک سازی شماری از جاده‌ها و رسته‌های این شهر را از وجود دست فروشان سیار آغاز نموده است.

هدف از این اقدام، تأمین نظم شــهری، سهولت در رفت‌وآمد وسایط و شهروندان، و زیباسازی چهره‌ی شهر می‌باشد.

قابل یاد آوری اســت که جریان پاکســازی، تعدادی از دست فروشــان سیار تشــویق به انتقال به مکان‌های مشخص‌شده گردیدنــد و از صاحبان دوکان‌ها نیز خواســته شــد تا پیش برآمدهای غیرقانونی را برداشته و به حدود تعیین‌شده بازگردند.

**مســؤولان در شاروالی شــهر میمنه ولایت فاریاب از باشندگان این شهر میخواهند با رعایت اصول فرهنگ شهرنشینی، شهر خود را پاک و منظم نگه دارند. شــاروالی شــهر میمنه در اطلاعیه ای از شهروندان خواســته اســت تا از ایجاد مزاحمــت در رفت و آمد عابرین و وســایط نقلیه با گذاشــتن اموال و اجناس مــازاد تعمیراتــی و غیرتعمیراتی در برابــر دکاکین و حاشیهٔ سرک‌ها جداً خود داری نمایند.**

فاریاب ۳۵

## کار بازســازی گلدان اطــراف چهار راهــی روضه مبارک جریان دارد



بلخ ۳٦

به منظور توسعه معیاری، شگوفایی، زیبائی و سرسبزی شهر مزارشریــف و به اســاس هدایت حافــظ عبدالرحمن همت شــاروال مزارشریف و بــه همکاری تجار ملی کار ســاخت و بازســازی گلدان اطراف چهاراهی شرقــی روضه مبارک که چندی پیش آغاز گردیده بود به صورت منظم جریان دارد.

کار ساخت و بازســازی گلدان مذکور شامل نصب کتار های فلزی، نصب پایــه های تنویر و تزئین ، بازســازی فواره آب ، سرسبزی گلدان، سنگ فرش و رنگمالی است که معیاد کاری آن ۱۵ روز تعیین گردیده است.

رغونه
اونیزه
د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه
د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

## جلسه‌ی اداری شاروالی شهر سرپل، برگزار گردید




سرپل ۳۷

جلسه اداری شاروالی سرپل امروز دوشنبه (۱۹ حمل) به ریاست مولوی حبیب‌الله قانع، شاروال شهر سرپل، روسا و مسؤولان بخش‌های مختلف شاروالی برگزار گردید و در مورد مسائل مهم شهری، از جمله بهبود خدمات شهری، تنظیف، برنامه‌ریزی انکشافی، حل مشکلات شهروندان و هماهنگی بیشتر میان بخش‌های مختلف شاروالی، بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

مولوی حبیب‌الله قانع شاروال سرپل در جلسه سخنرانی نمود و بر اهمیت خدمت‌گذاری صادقانه، رعایت اصول کاری، و تسریع در روند پروژه‌های شهری تأکید ورزید و علاوه بر آن روی موضوعات دیگر نیز بحث و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

این جلسه با تلاوت قرآنکریم آغاز و با دعای خیر به پایان رسید.

## د غوربند ښاروالۍ د سرسبزۍ او تنظيف چارې په منظم ډول دوام لري

د غوربند ښاروالۍ د سرسبزۍ او تنظيف مسؤلينو له لوري د ښار په بېلابېلو برخو کې د ښار ښکلا او پاکوالي لپاره د منظم پلان له مخې اجراآت دوام لري، تر څو ښاري چاپېريال پاک او شين وساتل شي.

د دو شنبې ورځې اجراآتو په دوام د سرسبزۍ برخه کې ونو، بوټو او چمنونو ته اوبه ورکول او ځيني نوي نیالګۍ کېنول شول.

همدارنګه، د تنظيف ټيمونه هره ورځ د ښاري کوڅو، سړکونو او عامه ځايونو څخه کثافات ټولوي او انتقالوي.

ښاروالۍ د ښاري نظم، روغتيا او چاپېريال د ښه والي په موخه په بېلابېلو برخو کې کار کوي او له ښاريانو هم غواړي چې د ښار د پاکوالي او شنو سيمو د ساتنې په برخه کې له ښاروالۍ سره همکاري جاري وساتي.

پروان ۳۸

بخش سرسبزی شاروالی میمنه ولایت فاریاب امروز دوشنبه،(۱۸ حمل) در راستای تأمین سرسبزی و ایجاد فضایی سبز و جلوگیری از خشک شدن درختان غرس شده، درختان وسط سرک بی‌بی آئینه در ناحیه سوم این شهر را آبیاری کرد.



فاریاب ۳۹

## د جلال اباد ښاروال قاري بلال په مشرۍ غونډه ترسره شوه




ننګرهار ۴۰

د جلال اباد ښاروال قاري بلال په مشرۍ او د مرستيال ښاروال مولوي محمد اسحاق سعيد له لوري د عوايدو او محاسبې رئيس الحافظ عبدالوکيل معاذ، د ښاري حکومتولۍ رئيس مولوي سيف الرحمن شينواری، د ناحيو آمرينو، داخلي آمرينو، د عوايدو کارکوونکو او اړوندو مسولينو سره غونډه ترسره شوه.

د جلال اباد ښاروال قاري بلال وويل: دا چې د مالي کال پيل دی په ټولو برخو کې بايد کارونه په منظمه ډول ترتيب او تنظيم شي. هر کارکوونکی د خپل کاري بهير په برخه کې د اصولو له مخې بشپړ صلاحيت لري. د نوي کال لپاره د صنفي جوازونو په برخه کې بايد کمېټې جوړې او په شفاف ډول سروې ترسره کړي.

مرستيال ښاروال مولوي محمد اسحاق سعيد وويل: د ښاروالۍ ټول ملکيتونه او شنې ساحې بايد په موقت ډول په قرارداد ورکړل شي. د پروژوي خدمتونو څخه بايد په بشپړ ډول څارنه ترسره شي.

د ناحيو امرينو او اړوندو کارکوونکو د ښاروالۍ مقام سره يو شمېر ستونزې او غوښتنې شريکې کړې چې د حل په موخه يې د ښاروالۍ د مقام له لوري ډاډ ورکړ شو.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبرۍ د چارو د پرمختګ، بهبود او غوره والي په برخه کې ژمنه ده او هڅه کوي په ټولو برخو کې غوره پرمختګونه رامينځته ته کړي.

## غزني ښار په اوله ناحیه کې د خشک د سړک د جوړولو چارې روانې دي




غزني ۴۱

غزني ښار د اولي ناحيې اړوند د خشک کلي د سړک چارې چې د تېر کال په اخير میاشتو کې پیل شوي وې او د دهوا د سړيدو له کبله پاتې شوي وې اوس مهال د ښاروالۍ رياست او ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د دفتر په مرسته یو ځل بیا پیل شوي.

ياد سړک د لومړی برخې د جوړولو چارې کېندلو، هوارولو، خاورو لېږدولو، خېډونو د پاکولو چارې د دې رياست له خوا روانې دي تر څو د دې سړک اساسي جوړولو ته زمينه برابره شي.

د پروژې انجينر احمد سليم دهقانمل د معلوماتو له مخې : د اولي ناحيې د ښار څخه تر خشک سيمې پورې د سړک چارې د ۶۵۰ مترو په اوږدوالي او ۷ متره په سور سره روانې دي.

د نوموړي په وينا: تر دې وړاندې د يادې سيمې اوسېدونکي د دغه سړک د خرابوالي له امله له ګڼو ستونزو سره لاس او ګريوان وو، خو له نيکه مرغه چې اوس به يې په جوړېدو سره ، د خشک، قلعه آهنګران، قلعه قاضي، قلعه امو اوسېدونکو ته ګڼې ترانسپورتي او ټولنيزو آسانتياوو برابره شي.

بل خوا د سيمې اوسېدونکي او په دغه پروژه کې کارګر وايي: د لومړي ځل لپاره په دې سيمې کې انکشافي پروژه پلي کېږي او د ښاروالۍ له رهبرۍ څخه خوشحالي څرګندوي.

دغه فرعي سړک د لښتيو په ګډون به يې د جوړولو چارې د دوه مياشتو په موده کې د ۸ ميليونو افغانيو په ارزښت په اساسي ډول ورغول شي.

بزرگان و نمایندگان مردمی نواحی اول و سوم شاروالی انجیل ولایت هرات با مولوی نعمت الله رحیمی شاروال این شهر دیدار کردند و در مورد عرضه خدمات شهری و رسیدگی به مشکلات مردم در نواحی یاد شده گفتگو نمودند.

هرات ۴۲

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

رغونه
اونیزه

# د ولایاتـــو او ولســـوالیو ښـــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## د مزارشریف ښاروال، د فراه ولایت والي سره لیدنه وکړه




د مزارشریف ښاروال حافظ عبدالرحمن همت په خپل کاري دفتر کې د فـراه ولایت والي مولوي غـوث الدین رهبر سره لیدنه وکړه.

په لومړي کې د مزارشریف ښاروال حافظ عبدالرحمن همت د فراه ولایت والي الحاج مولوي غوث الدین رهبر ته ښه راغلاست ویلو ترڅنګ د مزارشریف ښار معیاري ودې او پرمختیا په موخه یې د ښـــاروالۍ له کړنو او فعالیتونو او د مزارشریف ښاریانو ته یې پروخت د ښـاري خدمتونـــو وړاندې کولـــو، وړاندیزونو او ستونزو حل لپاره د ښاروالۍ له هڅو یادونه وکړه.

بلخوا د فراه ولایت والي مولوي غوث الدین رهبر د ښار آبادۍ او ښېرازۍ په موخه د مزارشریف ښاروالۍ له کړنو او فعالیتونو ســـتاینه وکـړه او د حافـظ عبدالرحمن همت تـــاکل یې د مزارشریف نوي ښاروال په حیث پرځای او غوره ټاکنه یاده کړه او ښـــاغلي همت ته یې په چارو د رب ذالجلال څخه د ښـــه خدمت او بریاوو غوښتنه وکړه.

مولوی عبدالغفور ســـیرت شـــاروال شهر تالقان از قســـمت های مختلف این شهر بازدید به عمل آورد و با شهروندان پیرامون مشـــکلات، دیدگاها و خواسته‌های شان صحبت کرد. در جریان این دیدار، شاروال تالقان اطمینان داد که شاروالی این شهر در جهت بهبود خدمات شـــهری، تنظیف محیط، ترمیـــم سرک‌ها و رفع چالش‌های شهری همه جانبه تلاش می ورزد.




## دیدار شـــاروال تالقان با رئیس و اعضایی پیشه وران و دوکانداران مندوی غله بازار




مولوی عبدالغفور ســـیرت شاروال شهر تالقان ولایت تخار، با رئیس و اعضای اتحادیه پیشـــه‌وران ولایت تخار و شماری از دوکانداران مندوی غله بازار دیدار کرد و روی بهبود وضعیت بازار، نظم شـــهری و همکاری متقابل میان شاروالی و صنف پیشه‌وران صحبت کرد.

در این دیدار، دوکانداران و پیشـــه‌وران مشکلات، چالش‌ها و پیشـــنهادات خویش را با شـــاروال شـــهر تالقـــان در میان گذاشتند و بر ایجاد سهولت در بخش تنظیف، تنظیم شهر و حمایت از فعالیت‌های تجارتی تأکید ورزیدند.

شـــاروال تالقان ضمن استماع مشـــکلات اشتراک کننده در جلســـه، اطمینان داد که رهبری شـــاروالی با تمام توان در راستای بهبود وضعیت شهری، حمایت از کسبه‌کاران، تامین نظم و رفاه عمومی تلاش می نماید.

## فراه ښـــاروالۍ د څلورمې ناحیې له سړکونو مزاحم شګې انتقال کړې




فراه ښـــاروالۍ له لوري د څلورمې ناحیې اړوند د قومندانۍ ســـړک د لومړي کوڅې څخه هغه شګې انتقال کړې چې د تګ راتګ مخه یـــې نیولې وه او د خلکو لپاره یې ســـتونزې راپیدا کړې وې.

د فراه ښـــاروالۍ اړوند د څلورمې ناحیې مدیریت او د ښاري انضباط مدیریت په همغـــږۍ سره د یادې ناحیې له بېلابېلو سړکونو هغه شـــګې ټولې او لیرې شوې چې د ښاري نظم د اخلال سبب ګرځېدلې وې.

د فراه ښاروالۍ رهبرۍ د ښـــاري بینظمۍ او د ترافیکي ګڼه ګوڼې مخنیوي په موخه چاته اجازه نه ورکوي چې د سړکونو او پیـــاده رونو څخه شـــخصي ګټه واخلي او رامنځته شـــوی ښاري نظم اخلال کړي.

## د مهترلام ښاروال په مشرۍ اداري ناسته تر سره شوه




مهترلام ښاروال الحاج مولوي رحمت الله شهامت د ښاروالۍ له امرینو او مدیرانو سره د مهترلام ښار د ښه نظم او آبادۍ په تړاو اداري ناسته تر سره کړه.

ښاروال ښاغلي شهامت امرین او مدیران خپلو دندو ته متوجه کـړل او له دوی یې غوښـــتنه وکړه چې ورســـپارل شـــوي مسؤلیتونه د قانون په رڼا کې په وخت تر سره کړي.

نوموړي وویل: اوس مهال د ښـــاروالۍ کارونه ښه منظم روان دي او د فساد مخه نیول شوې ده او دی به هیچا ته اجازه ورنه کړي چې غیرې قانوني کار وکړي.

همـــداراز امرینو او مدیرانو د تیر اداري مجلس ګزارش هم له ښاروال سره شریک کړ او یو شـــمیر نوي موضوعات یې ورته وړاندې کړل ترڅو پرې په راتلونکي کې کار وکړي.

پـــه پای کې ښـــاروال د تیر اداري مجلس د تر سره شـــوو کارونو په تړاو له امرینـــو او مدیرانو څخه مننه وکړه او نوي دندې یې ورته وســـپارلې ترڅو خپل کارونه په منظم شکل وکړي.

## څلورمه ناحیه کې د ســـړک د ګلدانونـــو د خړوبولو چارې رواني دي




د جلال اباد ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ امریت له لوري د څلورمې ناحیې د سړکونو ترمینځ ګلدانونو کې د بوټو د اوبو کولو چارې رواني دي.

د تنظیف او سرســـبزۍ امریت هره ورځ د سهار له شپږ بجو د مازیګـــر تر دري نیمو بجـــو پورې د ښـــار د عمومي جادو او ګلدانونو د اوبو کولو چارې ترسره کوي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې د ښار د ښکلا په موخه د زینتي بوټو پالنه په ښه شکل ترسره کړي.

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

رغونه
اونیزه

## شاروال میمنه از روند کاری پروژه‌های انکشافی و زیربنایی در سطح شهر میمنه بازدید کرد




فاریاب ۴۹

مفتی گل‌احمد مبشر، شاروال شهر میمنه ولایت فاریاب با مدیر عمومی خدمات تخنیکی و مسلکی و مدیر انجنیری و زیربنا از روند کاری شماری از پروژه‌های انکشافی و زیربنایی در سطح شهر میمنه بازدید و نظارت به عمل آوردند.

در این بازدید از پروژه‌های سرک لیسه ستاره، کانال مدیریت ناحیه پنجم، مجتمع تجارتی و رهایشی پریدگاه، نصب پایه های تنویری در ساحه تاتارخانه و پارک اولوس دیدن به عمل آوردند.

شاروال میمنه ضمن بررسی پیشرفت این پروژه‌ها، بر تسریع روند تطبیق پروژه‌های عام‌المنفعه تأکید ورزید و به شهروندان اطمینان داد که شاروالی میمنه همه‌روزه در تلاش است تا با برنامه‌ریزی منظم و اصولی، زمینه‌ی زندگی بهتر و شهر منظم‌تر را برای شهروندان فراهم سازد.

## په پنځمه ناحیه کې د خپلسرو ساختماني کړنو مخنیوی وشو



خوست ۵۰

د خوست ښاروالۍ اړوند پنځمې ناحیې مسؤلینو خارنکوټ نمرو کې د هغه کس د کړنو مخنیوی وکړ، چې ی پر عامه کوڅه کې یې د یوې کډې د کندنکارۍ چارې ترسره کولې، چې په وخت ورته رسېدنه وشوه او د یادې خپلسري ساختماني کړنې مخنیوی وشو.

د یادونې ده چې د مرکزي ښاروالۍ د شپې او د ناحیو د ورځې ګمارل شویو نوکریوالو لخوا، په ښار او اړوند پروژو کې، ستاسو ښاریانو په همکارۍ د خودسرانه کړنو د مخنیوي په موخه جدي اقدامات دوام لري، او هېڅوک به د ښاروالۍ د قانون خلاف کړنو ته پرې نښودل شي.

ښاروالۍ اداره په ټینګار سره له ټولو ښاریانو غواړي، چې د خپلو ساختماني چارو د پیل دمخه د ناحیو او ښاروالۍ له انجینرانو سره خپلې نقشې شریکې کړي او د قانوني پروسې له مخې یې چارې مخکې یوسي.

## د ګرشک ښاروال په مشرۍ اداري ناسته تر سره شوه



تخار ۵۱

د ګرشک ښاروال مفتي قدرت الله وصال صاحب د ښاروالۍ له اداري پرسونل سره د کارونو د همغږۍ په تړاو اداري ناسته تر سره کړه.

ښاروال مفتي قدرت الله وصال مدیران خپلو دندو ته متوجه کړل او له دوی یې غوښتنه وکړه چې ورسپارل شوي مسؤولیتونه د قانون په رڼا کې په وخت تر سره کړي.

او خپل مشکلات دې د یو بل مدیریت سره په تفاهم حل کړي.

همدارز مدیرانو د تیر اداري مجلس ګزارش هم له ښاروال سره شریک کړ او یو شمیر نوي موضوعات یې ورته وړاندې کړل ترڅو پرې په راتلونکي کې کار وکړي.

په پای کې ښاروال د تیر اداري مجلس د تر سره شوو کارونو په تړاو له مدیرانو څخه مننه وکړه او نوي دندې یې ورته وسپارلې ترڅو خپل کارونه په منظم شکل وکړي.

## خوست ښاروالي د زما ښار؛ لس اوریز جام لوبې ترسره کوي




خوست ۵۲

د خوست ښاروالۍ په نوښت د ناحیو او مرکزي ښاروالۍ منتخبو کریکټ لوبډلو ترمنځ د زما ښار؛ لس اوریز جام سیالیو دویم پړاو ترسره کېږي.

په همدې تړاو د ښارې حکومتوالۍ امریت له لورې د لوبډلو له مدیرانو سره ناسته ترسره شوه او ټینګار وشو، چې لوبغاړي به د ګذر وکیلانو له لورې تاکل کیږي او باید د ښارې ساحې د اړوند ګذر استوګن وي.

د یادو لوبو هدف د ناحیو جغرافیې پېژندل، د ښارې کلتور ترویج او ځوانانو ته د ورزش په برخه کې د اسانتیاوو برابرول دي، چې هر کال په مختلفو رشتو کې دا سیالۍ ترسره کیږي.

د یادونې ده، چې د لوبډلو رسمي نوملړونه به تر نهایي کیدو وروسته خپاره او لوبې به د ماسپښین له خوا د ښاروالۍ تفریحي پارک (پښتونستان پارک) پر مس عینک لوبغالي نږدې ورځو کې پیل شي.

## جلسه ماهانه بورد مشورتی و نمایندگان اصناف تحت ریاست مولای شمس‌الرحمن خالد، شاروال نهرین ولایت بغلان برگزار گردید.

شاروال نهرین در این جلسه پیرامون تدوین لایحه قیمت‌گذاری اماکن مسکونی، تجارتی و امارتی با مشورت نمایندگان اصناف، مالکان دکان‌ها، مارکیت ها و وکلای مردم و همچنان جلوگیری از ساخت و ساز غیرقانونی، آگاهی‌دهی برای برداخت عواید مربوط به شاروالی، پاکسازی شهر بحث نمود و پس از آن تصامیم لازم اتخاذ گردید.

بغلان ۵۹

## ګرشک ښاروالۍ کې د یو پلچک د جوړېدو چارې بشپړې شوې



هلمند ۵۴

د ګرشک ښار پر عمومي شهرا باندې د دهمزنګ د کوڅې پلچک چارې بشپړې او لاره یې د ترافیکو پرمخ پرانستل شوه.

ګرشک ښاروالۍ تل هڅه کوي ترڅو ښاریانو ته پر وخت خدمات وړاندې کړي.

## د مزارشریف ښار ۳مې ناحیې د درې کوڅو جوړولو(کانکریټ اچولو) چارې په چټکۍ سره رواني دي



بلخ ۵۵

د مزارشریف ښار پرمختګ او معیاري ودې په موخه د مزارشریف ښاروالۍ له لورې او د ملګرو ملتونو د پروژوې خدمتونو د دفتر په مالي مرسته

د مزارشریف ښار ۳مې ناحیې د درې کوڅو جوړولو(کانکریټ اچولو) چارې په چټکۍ سره رواني دي..

چې نوموړي کوڅې ۵۰۰ متره اوږدوالی او ٦ متره سور لري او دغه پروژه کې هره ورځ ٦۰ تنو ته د کار زمینه برابره شوې.

د یادو کوڅو په بشپړېدو سره به ښاریانو او لېږدونکي وسایط ته د تګ راتګ ډېرې اسانتیاوې برابر شي.

# د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## ځلورمه ناحیــه کې د ٥،٦ میلیونه افغانیو په ارزښــت د سړک او ویالو جوړولو د کانکریټ چارې جریان لري



ننګرهار ٥٦

د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ (UNOPS) موسسې په تخنیکي همکارۍ د ځلورمې ناحیې په ١٢ گــذر کې د ٧٦٧ متره په اوږدوالي، د ٥ متره په لنډوالي د سړک او ویالو جوړولو د کانکریټ چارې جریان لري.

د جلال اباد ښاروالۍ د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس انجنیر وحیدالله مخلص، د ښار او ارزونې امر انجنیر عبدالله نیکمل او ورسره مل پــلاوي د پروژې له کارونو له نــږدې لیدنه وکړه او د شرکت مســـؤلینو ته یې د چارو د ښــه والي پــه موخه لازمي سپارښتنې وکړې.

په دغه پروژه کې د سیمې ٨٥ تنه اوسېدونکي کار کوي. کارونه یې ٦٠ ســلنه بشــپړ شــوي. په نږدې راتلونکې کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د سیمې اوسېدونکو د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د یادې پروژې په ترسره کولو خوښــي ښودلې او په راتلونکې کې یې د لا نورو پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

د دې پروژو د تطبیق موخه د افغانستان په ښارونو او کلیو کې د لنډمهاله کاري فرصتونو او بېړنیو لومړنیو خدمتونو رامنځته کول دي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو موسسو په مرسته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په اساسي ډول ورغوي.

قاری لطف الله عبیده شـــاروال بغلان مرکزی امروز سه شنبه (۱۹ حمل) سرک مسجد شهر کهنه که کار سمنت اندازی آن آغاز گردیده است را افتتاح نمود.
قابل یادآوری اســـت که سرک یاد شده به طول ۲۳۰ متر و عرض ۱۰،۵ متر میباشـــد و از بودجه شاروالی بغلان اعمار میگردد.



بغلان ٥٧

## نظـارت از پــروژه اعـمار تــالار بــزرگ محافل شاروالی کندز



کندز ٥٨

قاری گل نبی انس شـاروال کندز از پروژه اعمار تالار بزرگ محافل شاروالی کندز نظارت نمود و به سرعت و کیفیت بهتر کار تأکید ورزید.

شاروال کندز تکمیل‌شـدن کار این پروژه را یکی از اولویت های این نهاد عنـوان نموده و اطمینان داد که، به بهترین و باکیفیت‌ترین حالت ساخته می‌شود.

شـاروال کندز به مسـؤولان تخنیکی و فنی شاروالی کندز هدایات صریح داد تا از مراحل مختلف تطبیق پروژه‌ها مرحله وار کـنترول و نظارت نمایند تا پروژه‌ها به شـکل درسـت و معیاری تطبیق گردد.

## دویمه ناحیه کې د سلطان محمود غزنوي سړک چارې د غزني ښاروالۍ ریاست له لوري پیل شوې

د غزني ښاروالۍ ریاست او یونپس نړیوالې مؤسسې په مالي ملاتړ د روضې اړوند د سلطان محمود غزنوي مـزار ته څېرمه د خواجه بهایي جــان آغا کور سره د فرعي سړک د کېندلو،هوارلو، خاورو لېږدولو او لښــتیو جوړولو چارې روانې او د یوې میاشــتې په موده کې به بشپړ شي.

د دغــه پروژې مســؤل انجنیـر سردار ولي وویل: د سلطان محمود غزنوي د سړک چارې پیل شوې دي چې، د یوې میاشتې په موده کې به بشپړ شي.

نوموړي همدارز زیاته کړه: د ســلطان محمودغزنوي ســرک د خواجه بهایي جان آغا د کور څخه بیا د غره لمن پورې د ٦٠٠ متره په اوږدوالي ٦ متره سور ٥٥٠ متره لښــتې لري چې ډېر ژر به کانکرېټ کولو ته چمتو شي.

د یاد سړک کانکرېټ به د سیمې اوسېدونکو ته ګټې ترانسپورتي اسانتیاوې برابرې کړي.

بل خوا د سیمې اوسېدونکي د داسې پروژو هر کلي کــوي او زیاتوي هیله ده چې نوموړې پروژه په ټاکلي وخت او ښه کیفیت سرته ورسېږي.

غزني ٥٩

## د ښــاري پراختیا په موخه د کندهار ښــاروالۍ مهم ګام



کندهار ٦٠

کندهار ښاروالۍ د ښــاري پراختیا په موخه د ښار په مرکزي نقطه کې شــهیدانو څلــور لارې ته څېرمــه د حبیبي واټ وروستۍ نقطه چې د مختلفو عواملو لکبله همداسې پاتې وه او مارکیټونه پرې جوړ شوي و، یاده ساحه یې ډېره کم عرضه کــړې وه او د زیــات رش او بې نظمۍ لامل شــوې وه فعلا کندهار ښــاروالۍ د یاد مارکیټ د له منځه وړلو او د یادې لارې د پراخولو هڅې پیل کړې.

د دې مارکیــټ په له منځه وړلو سره به یاده لاره ډېره پراخه او هم به نوموړې ســاحه د بې نظمۍ څخه خلاصه او شهیدانو څلور لارې ته به ځانګړې ښکلا ورکړي.

د دې ســاحې پر اســتملاک او رغیدلو باندې شــل (٢٠) میلیونــه افغانۍ لګښــت راځي چې د کندهار ښــاروالۍ د انکشافي بودیجې څخه ورکول کېږي.

د نومــوړې مارکیټ په لــه منځه وړلو او د یادې ســاحې په پراخولو سره عامو ښــاریانو زیاته خوښي ښودلې او د کندهار ښاروالۍ څخه یې د داسې ورته کارونو غوښتنه وکړه.

## په ښــاري محدوده کې په پیــاده لارو کې موانع په نښه شوې



هلمند ٦١

ځانګړي ولایتي کمیســون په مټ نن ورځ هغه موانع چې د سړک په حریم او پیاده لارو کې موجود وې په نښه او ترڅنګ یې ښــاري اوســیدونکو ته خبرداری ورکړې شو ترڅو په نښه شوې ساحې ړنګې او لارې خلاصې کړي.

د یادونې وړ ده چې په لمړي پړاو کې ټاکل شــوې اندازه په نښــه کیږي او دوهم پړاو کې یې په وړانــدې عملي ګامونه اخستل کیږي.

## سرسبزی مدیریت ته لسګونه نیالګي ډالۍ شول



خوست ٦٢

خوست ښاروالۍ سرسبزۍ مدیریت له لوري د چاپېریال د سرسبزه کولو په موخه لسګونه د لاجیستینیا ډالۍ شوي نیالګي کېنول شول.

یاد نیالګي د ډاکټر فریدالله نوري له لوري د خوست ښاروالۍ سرسبزۍ مدیریت ته په خپل مالي لګښت ډالۍ شوي و.

د یادونې ده، چې یاد نیالګي د څلورمې ناحیې اړوند، د ۱۲۰۰ فامیلیو سړک په اوږدو کې د پښتونستان پارک مخې ته په ګلدانونو کې کېنول شول.

## خوست ښاروال پروژې باید په ټاکل شوي معیار او وخت کې تکمیل شي



خوست ٦٣

خوست ښاروال مفتي شهزاد نور راشد د نوي بارګینو مخې ته د جوړیدونکي سړک د چارو لیدنې پر مهال د قراردادي شرکت له مسؤلینو وغوښتل چې نور په کارونو کې ځنډ ورته د منلو نه دی ټولې چارې باید په معیار برابرې او په ټاکلي وخت تر سره شي.

همداشان یې د ښاروالۍ انجینري ټیم څخه په کلکه وغوښتل چې د چارو نظارت مو مسؤلیت دی او په ښه شان یې تر سره کړئ، تر څو مو په وخت خپلو ښاریانو ته خدمات وړاندې کړي وي.

د شرکت مسؤلینو ښاغلي راشد ته په ټولو برخو کې پوره ډاډ ور کړ او زیاته یې کړه، چې یاده پروژه به په ټاکلي وخت تکمیلیږي.

**بخش تنظیف و سرسبزی شاروالی ولسوالی گذره ولایت هرات، به منظور رشد و تزئین فضای سبز چمن های داخل بلوارهای شاهراه امام (رح) را از موقعیت ولسوالی گذره الی پشتون پل اصلاح نموده است.**


هرات ٦٤

**پرسونل تنظیف و سرسبزی شاروالی پلخمری ولایت بغلان شب و روز غرض صفایی و ایجاد فضای پاک تلاش میورزند.**
**تیم شبانه عمله تنظیماتی شاروالی بخاطر سهولت همشهریان شهر پلخمری سرک عمومی و نقاط مزدحم شهر را از وجود کثافات پاکسازی نموده و شستشو نمودند.**


بغلان ٦٥

## ګردیز ښاروال په سویل ختیځ زون کې د یونیس مؤسسې له مسؤلانو سره وکتل

نن ورځ ګردیز ښاروال حبیب الله اخندزاده "حامد" په سویل ختیځ زون کې د یونیس موسسې مسؤول انجینر نعمت الله "دوراني" او ددې دفتر نورو کارمندانو سره په خپل کاري دفتر کې سرګ کال لپاره پلان شویو پروژو، د کال په لړ کې د ښاروالۍ پر عوایدو او په ښار کې شته ستونزو په تړاو تفصیلي او هر اړخیزې خبرې وکړې.

ګردیز ښاروال د دوی راتګ د قدرداني او ښه راغلاست تر څنګ دې یونیس دفتر لخوا ګردیز ښار کې روانو او پلي کیدونکو پروژو خوښي وښوده، چې ګردیز ښاروالۍ سره د ښې همغږۍ له مخې د پلي لارو، ویالو، شنو ساحو او کانګریټي سړکونو په برخو کې ګڼې پروژې تطبیق کوي.

ښاروال وویل، ګردیز ښار کانالیزیشن سیستم معیاري کیدو، ښار موجوده سړکونو بیا ځلې رغونه، ښکلا او پراختیا ډېر کار او امکاناتو ته اړتیا لري، چې ګردیز ښاروالۍ د خپلو کمو عوایدو پر مټ نشي کولای څو د ښار موجوده ستونزو ته پر وخت سره رسیدنه وکړي.

ګردیز ښاروال په ښار کې د ذکر شویو ستونزو او ښار کې موجوده نیمګړتیاو په تړاو د یادې موسسې مسؤلینو څانګړې پاملرنه وغوښتله او پدې حالاتو کې د ښاروالۍ سره اقتصادي وضعیت ښه کولو کې د دوی لاسنیوی او همکارۍ اړینه وبلله.

وروسته په جنوب ختیځ زون کې د یونیس موسسې مسؤل انجینر نعمت الله "دوراني" ګردیز ښاروال ته د نوي دندې پیل مبارکي او چارو کې د بریا هیلې څرګندولو تر څنګ یې په ښار کې شته ستونزې پر ځای وبللې. ښاغلي دوراني ښاروال ته ډاډ ور کړ، چې ښار ابادي، ښکلا، پروژو غوره تطبیق او ګردیز ښاروالۍ سره د اړیکو لا پیاوړتیا په برخو کې به ګردیز ښاروالۍ سره ګډ کار وکړي.

ښاغلي دوراني په خبره یونیس دفتر په ګردیز ښار کې د (۲۸) پروژو تطبیق چارې پلان کړې، چې د څلورو پروژو چارې بشپړې، (۱٦) پروژو چارې د پیل کیدو په درشل او پاتې پروژو تدارکاتي مراحلو له طی کیدو وروسته ژر تر ژره پیل کړي.

پکتیا ٦٦

## رستورانت شاروالی محمودراقی افتتاح گردید


کاپیسا ٦٧

به مناسبت افتتاح یک باب رستورانت جدید، محفل باشکوهی توسط شاروالی محمودراقی ولایت کاپیسا در حضور مولوی عبیدالله حسام شاروال محمودراقی، رؤسای ادارات اطلاعات و فرهنگ، زراعت و آبیاری، عدلیه، کار و امور اجتماعی، آمر رادیو و تلویزیون ملی کاپیسا، آمر قضایای امارت، نمایندگان وکلای گذر، مسٔوولان رسانه‌های محلی و شماری از باشندگان ولایت کاپیسا برگزار شد.

شاروال محمودراقی افتتاح این رستورانت را یکی از دستاوردهای مهم شاروالی در راستای بهبود خدمات شهری و رفاه شهروندان عنوان کرد. وی همچنین بر ادامهٔ تلاش‌های شاروالی به‌منظور فراهم‌سازی سهولت‌های بیشتر برای باشندگان شهر و سیاحان تأکید ورزید.

قابل یادآوری است که شاروالی محمودراقی کار اعمار این رستورانت را که مجهز با سالون بزرگ، آشپزخانه معیاری و تشناب‌های مجهز می‌باشد به هزینه ۳٫۵ میلیون افغانی آغاز کرده بود که اکنون به بهره‌برداری سپرده شد.

**مدیریت تنظیف و سرسبزی شاروالی میمنه ولایت فاریاب امروز سه‌شنبه در ادامه فعالیت های خویش اقدام به پاک‌کاری آبروهای جادهٔ سنایی در ناحیه دوم و سرک لیسهٔ ستاره در ناحیه چهارم این شهر نموده و همچنان زباله‌های جادهٔ لودین را تخلیه و به محل مشخص انتقال دادند.**


فاریاب ٦٨